مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۱۱/۳۰

# ښکلي وه خومره

شين يې خال و په جبين، ښکلي وه خومره
په ريښتيا وه ماجبين، ښکلي وه خومره

پــه حـيـا کې وه روا نــه لـکـه زرکـه
وه بـريـښـنـا د مـاسپښين، ښکلي وه خومره

تـوروسـتـرګـو يې خنجرپه زړه را ښکل کړ
دا شـيـره وه د ګـبـيـن، ښکلي وه خومره

پـټ پـټـانـي او خـنـدا کې يـې اسـير کړم
غـنـم رنـګـه نـازنـين، ښکلي وه خومره

پـه يــو ځـل رانــه يــوه شـيـبـه پـنـاه شـوه
وه د ګـل په شـان رنـګـين ښکلي وه خومره

۲۰۲۰/۱۰/۰۲
کابل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ